# دامریکا داردوپه نظامی ځواکونو کښې ځان وژنه دتیروکلونوپه پرتله په (۲۰۰۸) م کال کې زیاتوالی ښیې !

دانټرنیټ دفارسی سرچینوڅخه
ژباړونکی : عزیزاحمد خوارمل

دامریکایی سربازانودځان وژنی شمیرنه ددوو جګړوپه ترڅ کې په عراق اوافغانستان کې اودامریکا دهیوادڅخه بهر داوږدی مودی اوډېرو دندودتره سره کولوپه بهیر کې دغه سربازان دټینګ اوژوراسترس سره مخامخ سوی دی اوپه تیرکال کې دغه شمیرنه وخپل لوړپړاوته ورسیدی .دا په داهسی حال کې دی چې دامریکا یی سربازانوپه منځ کې دځان وژنی شمیرنه ، په پرله پسی توګه په ځلرم کال زیاتوالی موندلی دی اوهمدارنګه دلمړی ورځوڅخه بیا دا تراوس پوری دسربازانوپه منځ کې ځان وژنه ډېره پراختیای یې پیداکړی دی .



دامریکا نظامی مشرانو اعلان یې کړی دی چې ددی ځان وژنو دمخنیوی دپاره هرډول کړنی چې ددوی په وسه او واک کې وي ترسره به یې کړي.

ددفاع دوزارت دغه جګپوړی چارواکی ددی وړاندیز هم کړی دی چې یوشمیر داړواح پوهنی اوساپوهنی کارپوهان اومتخصیصین په دی هکله ددی کار اوپرابلم دپاره مرستی وکړی اودهمدی ډول سربازانوسره د نږدی اړیکی وساتی ترڅوددی کارڅخه مخنیوی وکړای سی.

داسوشیتدپرس دخبری آژانس دیورپوټ پربنسټ ،دامریکا ددفاع وزارت پینتاګون اعلان یې کړی چې (۱۲۸) یوسلواته ویشت تنه امریکایی سربازان په (۲۰۰۸) دوزره اتم میلادی کال کې ځان وژنی یې کړی دی اووروستنی شمیرنه به هم ممکن تردی زیات وی ځکه چې اوسمهال

د (۱۵) پنځلسو نامعلوموا و مشکوکو وژنو د پیښو څیړنې او تحقیقات لاتراوسه پوری واضح سوی نه دی او د دغو پیښو څیړنې هم ترکارلاندی دی .

پته ګرن دامریکا ددفاع وزارت پینتاګون یوجګپوړی چارواکی وویل : همدا اوسمهال مورږولی باید پریږدو چې په امریکایی سربازانو کښې د ځان وژنې شیمر لوړولاړسی اوکولای سو چې وو ایو دامریکا داردو دځواکونو په هکله مورږهوډمن یو که دپیل او کار په له منځه وړلو او په ترسره کولو کې عملی کړنی رامنځته کړونو هر مروبه ددی کاره څخه مخ نیوی و سی.

کیم روکو چې خپله نظامی خاوند (میرړه )یې دکالیفرنیا په یو هوتل کې په دار وزړه واه وی ویله :دغه ټول موضوعات دهغه ځایه څخه رامنځته سوی دی چې د استرس اودیولړنورو ستونزوله امله په امریکایی سربازانو کښې منځته راغلی دی چې دامریکا د دفاع وزارت پینتاګون چارواکی یې هم نه وینی. ده وویله چې خاوند(میرړه ) یې (۷۵) ځله خپلی دندی یې په عراق کې ترسره کړی وو ،اوډیری ستونزی اوروانی پرابلمونه یې لرل دهغه جملی څخه د استرس سره لاس اوګریوان وو.

همدا رنګه السیت ریتچې، چې دامریکاددفاع په وزارت پینتاګون کې دارواح پوهنی یو مشوره ورکونکی اومشاور دی،ددی مسئلی دمخنیوی دپاره وړاندیزونه یې رامنځته کړی دی چې دامریکا داردوپه ځواکونوکې دی داورواح پوهنی اوسا پوهنی دکار دترسره کولودپاره دسربازانو په منځ کې ددی کار دسرته رسولودپاره یوشمیرنورمتخصیصن راوبلل سی ،ده وویل مورږ ددفاع ووزارت ته دیوشمیرساپوهانو اوداروراح پوهنی دمتخصیصنودګمارلوپه هڅه کې یوا ومورږ ددی مسئلی دمخ نیوی د پاره ه ددی متخصیصینوڅخه مرسته غواړو.

همدا رنګه ده وویل ،دامریکا نظامی مشرانو په دی هکله یې په ټینګار سره ویلی چې ددی پیښو دمخنیوی په خاطرپه راتلوونکوورځوکښې کیدونکی کړنی به پیل اوترسره کړی.

دامریکایی سربازانو دځانی وژنی شمیره په (۲۰۰۶ ) کال کې (۱۰۲) تنه اوپه (۲۰۰۷ ) میلادی کال کې (۱۱۵ ) تنه اوپه (۲۰۰۸ ) م کال کې (۱۲۸ ) تنوته رسیدلی دی .

همدا رنګه دواشینګتن پوست ورځپاڼې هم په دی هکله ولیکل : ژنرال پیتر چیارلی دامریکا دقواو قوماندان وویل: په دی کې کوم شک نیسته چې استرس اوروانی اضطرابونه دزیاتوځان وژنو په کارکې ګټور ګڼل کیدی سی.

دواشینګټن پوست ورځپاڼی  د(۴) ځلورتنودځان وژنوپه هکله چې  دوه (۲) تنه یې دنظامی پوهنتون محصلین وو چې دوه اونی مخ کې  په ځان وژنویې لاس پوری کړی وو ، وي یې لیکل: داردودنظامی پوهنتون چارواکی یو ډله دطبی جراحانوڅخه یې   ددی وژنودځیړنی دپاره موظف کړی دی  چې دغه پیښنی  وڅیړی ،ځکه دنوامبردمیاشتی  څخه تردا اوسه  پوری په دی نظامی پوهنتون کې (۵) کسه ځانونه  یې له منځه وړلی دي . ددی راپور پربنسټ ددغو (۵) پنځوکسووژل سوی محصلینودجملی څخه دوه(۲) تنه یې په روانی ناروغیواخته وو.

په همدی ډول سره دشیکاګوتربیون دورځپاڼې دیورپوټ پربنسټ پنځلس امریکایي سرتیرو

دژباړن یادداښت:

پرعراق باندی دامریکادیرغل څخه وروسته دهغه نیتی نه تردااوسه پوری (۴۲۳۲) تنه امریکایی سربازان په عراق کې وژل سوي دي.

اوپرافغانستان باندی دامریکا دیرغل د۲۰۰۱  م کال څخه را وروسته بیاتردا اوسه پوری  تر (۵۰۰) پنځه سوه تنه پوری ډېرتره امریکایی سربازان په افغانستان کې وژل سوي دي.  /

اخیځلیک:

-دجام جم دسایټ څخه

-دقطرنیوز دسایټ څخه .